**ګډه مطبوعاتی اعلامیه**

**په وسله والو ځواکونو کې د ماشومانو د ګمارلو او کارونې د مخنیوي په موخه افغانستان یو مهم تړون لاسلیک کړ**

**کابل: ۲۰۱۰ کال د جنورې ۳۰ نیټه:** د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت نن ورځ د یو تړون په لاسلیک کولو سره ژمن شوي چې نور اقدامات تر سره کړي چې په افغانستان کې د وسله والو جګړو څخه د متاثره شوي ماشومانو ساتنه کوي او د افغانستان په ملی امنیتی ځواکو کې د صغیرو ماشومانو د ګمارلو او همدارنګه د جګړې په محتوا کې د ماشومانو پر ضد د نورو تر سره شویو تیریو څخه مخنیوی کوي. د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی زلمی رسول او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړي استازی او د یوناما مشر ښاغلی ستفان دی میستورا او د ماشومانو او وسله والې جګړې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازی رادهیکا کوماراسوامی په ګډه سره د ملګرو ملتونو او د افغانستان د حکومت تر منځ دغه تړون لاسلیک کړ.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر زلمی رسول وویل: نن ورځ مونږ دلته سره راغونډ شوي یو څو د افغانستان د ماشومانو د ښې راتلونکې لپاره یو ستر ګام پورته کړو. دا نه یواځې د دولت مسؤلیت دی، بلکې د ټولې ټولنې څخه غوښتل شوي چې په افغانستان کې د ټولو ماشومانو د ژغورنې لپاره په ګډه کار وکړي.

د ۲۰۱۰ کال په اپریل کې د سرمنشی په نهمه ګڼه راپور کې چې د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه وو د افغانستان د ملی پولیسو په لیکو کې د ماشومانو د ګمارلو او کارونې له امله په فهرست کې راوړل شوي وو. حکومت د دې په غبرګون کې په بیړه اقدام وکړ او د ۲۰۱۰ کال په جولای کې یې د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د وزارتونو تر منځ د مشرتابه کمیټه جوړه کړه چې ۸ وزیرانو، د ملی امنیت مشر او د پوهنی او روغتیا په برخو کې د ولسمشر سلا کار په کې ګډون لري.

د ماشومانو او وسله والې جګړې لپاره د سر منشی ځانګړي استازی رادهیکا کوماراسوامي وویل: د نن ورځې د عمل د پلان لاسلیک چې له مخې یې د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو د ګمارلو او کارونې مخنیوي کیږي او دا چې د ماشومانو د حقونو څخه د نورو سرغړونو سره مبارزه وشي،دا د دغه ډول کړنو د پای ته رسولو په لار کې لومړنې مهم قدم دی.

د یونیسف د چارو استازي پیټر کراولی وویل. موږ د عمل د دغه پلان د لاسلیک کولو ستاینه کوو، دا به د افغانستان د حکومت له خوا د نوی ژمنې په ښه کول وي څو د امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د استخدام او کارونې د مخنیوي په موخه د نړیوالو معیارونو د تقویت په چارو کې مرسته وکړي.

<u>**د ایډیټورانو لپاره یاداښت**</u>

د ماشومانو او وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې کاري ځواک د ماشومانو په وړاندې د ترسره شویو سرغړونو، د ماشومانو د کارونې او استخدام په شمول د وژنو، معیوبیت، جنسي تیري او د جنسي تاوتریخوالی د نورو ډولونو، په ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو، تښتونو او د شخړو د ښکیلو ډلو له خوا د بشري لاس رسي د

مخنيوی په هکله نظارت کوي. په ۲۰۰۸ کال، دغه میکانیزم پخپله د ولسمشر کرزی له خوا تصویب شو او د همدې میکانیزم د تصویب راهیسي نوموړی د شخړو له امله د متاثره شویو ماشومانو ساتنې ته ژمن پاتې دی.

د رهبري کمیټې د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې د کاري ځواک په ګډون د عمل دغه پلان چې نن لاسلیک شو چمتو کړی دی. د عمل دغه پلان د افغانستان د حکومت لپاره بیلا بیل فعلایتونه چې باید د حکومت له خوا پرمخ یوړل شي تیاروی څو داسې مسایلو ته لکه د زیږون د ثبت د چارو ښه کول، د عمرد تعین میکانیزم او د کم عمر کسانو د استخدام او جنسي تاوتریخوالی د مرتکبینو د تعقیب او څیړنو موضوعاتو ته ځواب ووایي. حکومت ژمنه کوي چې د سولې او پخلاینې په هر ډول راتلونکو خبرو اترو کې او د پوځې ډلو سره د خبرو اترو په شمول د امنیتی ځواکونو په لیکو کې د ۱۸ کلونو نه د کم عمر کسانو د سم د لاسه خوشې کولو لپاره د ماشومانو په هکله ځانګړو مقرراتو ته ځای ورکړي.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د لاندی ښو سره اړیکه ټینګه کړئ:


ټي موټي لا روز
د اړیکو کارکونکي،
د ماشومانو او وسله والې شخړې لپاره د عمومي منشي د ځانګړی استازی دفتر
+1 917-346-3404
larose@un.org

موریل جی شچیونیډ
د اړیکو کارکونکي،
د ماشومانو او وسله والې شخړې لپاره د عمومي منشي د ځانګړی استازی دفتر
+917 367 35 62
gschwend@un.org


ویب پاڼه: http://www.un.org/children/conflict
ټویټر: http://www.twitter.com/childreninwar
فلیکر: http://www.flickr.com/photos/childrenandarmedconflict/